مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب الله زغم

۲۰۲۳/۰۸/۲۷

# ډېر زامن بنه وي که زيات همت

په تنظيمي جګړو کې زموږ اکثر خپلوان چې په چهلستون کې اوسېدل، د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شول. زموږ کور په هوايي بلاکونو کې و. څلور کوټې مو لرلې، درې کډې زموږ کره راغلې. له موږ سره څلور کورنۍ شوې. بې کاري بې روزګاري وه. ما خبنتي اچولې؛ خو چا نه اخيستلې.

په راغلو کډوالو کې مې د ترور زوم عبداللطيف هم و. د هغه درې لونې وې، زامن يې نه وو. ټول دې ته حيران وو، چې نسونه به څنګه مروي؟ زموږ د کورونو لږ ها خوا کرونډې وې. عبداللطيف به ټوله ورځ هلته ورك و. له بزګرو سره به يې په للون، د پولو په جوړولو او نورو چارو کې مرسته کوله. مازديګر چې به راته، بينډۍ، روميان، نوش پياز، ملی او نورې ترکارۍ به يې راوړلې. د پټيو پولې چې به يې جوړولې، کبل به يې راټولول، لمر ته به يې اچول، چې وچ به شول، نو په بوجيو کې به يې د سونګ لپاره کورته راوړل. د کبلو بوجۍ دومره ډېرې شوې، چې د دوی له ضرورته زياتې وې. ګاونډيان چې مو خبر شول، په بيه يې څنې واخيستل.

د طالبانو په راتګ سره ټول بېرته خپلو کورو ته ولاړل. د عبداللطيف په کور راکټ لګېدلی و. کور يې له سره جوړ کړ. مېرمن به يې ورسره زمبيل چلول. لونې به يې هم د شپې له خوا ډېوالونو ته خبنتې نژدې کولې. دوه کوټې يې په خپله خواري جوړې کړې. د کوټو دېوالونه يې اخېړ (کاه ګل) کړي وو؛ خو سيم ګل او رنګ ته يې پيسې نه وې پاتې. د ډېوالونه بهرنۍ خوا خو اخېړ شوي هم نه وو.

د منديي په کوڅه کې يې يو هزاره دوکاندار ملګری شو. هغه به مزرين رېبز (جارو) خرڅول. د رېبزو د جوړولو چل يې ورزده کړ. بيا نو عبداللطيف به ټوله ورځ له خپلو لونو او مېرمنې سره په کور کې رېبز جوړول. هره ورځ سهار به يې د تېرې ورځې جوړ کړي رېبز په بايسيکل باندې منديي ته وړل او له هغې خوا به يې مزرې او د کور لپاره وکاري (شيان) راوړل.

د رېبز په پيسو يې کرار کرار ډېوالونه سيم ګل او څو مياشتې وروسته يې رنګ کړل. د کور سامان يې چې جګړومارو لوټ کړي وو، هم ورو ورو پوره کړل.

د هغه په دسترخوان باندې به هره ورځ ميوه او ترکاري هم وو، که اعلی درجه ميوه يې نه شوای اخيستلی؛ نو د خپل جيب سره سم يې ارزانه ميوه خامخا اخيستله. په دې کلونو کې به داسې ډېر کسان چې ځني زامن به يې هم وو، خپله ډوډۍ په ډېرې سختۍ سره پيدا کوله؛ خو ما عبداللطيف هيڅ کله مفلس ونه ليد.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ